# سپین غر

## د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار)

Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)




**د طبي لوړو زده کړو معیاري اداره**

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**

# پېژندنه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننگرهار) په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې ایجاد او د لوړو زده کړو وزارت سره په نولسمه (۱۹) گڼه ثبت او د ننگرهار ولایت په مرکز جلال اباد ښار کې یې فعالیت پیل کړ. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننگرهار) په پیل کې یوازې معالجوي طب پوهنځی درلود، چې د کال په تېرېدو سره د لوړو زده کړو وزارت د مثبتې ارزونې په پایله کې ورته د دوو نورو (ستوماتولوژي اوطبي تکنالوژي) پوهنځیو د فعالیت اجازه هم ورکړل شوه. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکونې ریاست لخوا ترسره شوې بهرنۍ مسلکي ارزونه کې د اعتبار اخستنې په دویم پړاو کې بریالۍ شوې ده او له نېکه مرغه په ۱۳۸۹ هـ ش کال کې یې خپله لومړۍ څانگه په مرکز کابل کې پرانیسته او پر فعالیت یې پیل وکړ.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د محصلینو معیاري زده کړو او روزنې په موخه کادري استادان، معیاري درسي نصاب، مناسب درسي چاپېریال، مجهز لابراتوارونه، عصري ۲۴ ساعته تدریسي او معالجوي روغتون، په عصري ټکنالوژۍ سمبال تحقیقاتي مرکز او نور ټول اړین او کومکي درسي او کاري اسانتیاوې لري. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه پرمختللی ډیټابیس یا ERP آنلاین سیستم لري، چې په مرسته یې ټولې تدریسي- او اداري چارې په ښه توگه سمبالېږي او همدا راز محصلین کولای شي، چې د همدې سیستم پر مټ خپل ټول تحصیلي معلومات د نړۍ په هر گوټ کې په آنلاین ډول وگوري.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې ټولې اداري او تدریسي- چارې د با تجربه او مسلکي متعهد کاري ټیم له لورې پرمخ وړل کېږي. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه له ځینو نړیوالو سازمانونو او ټولنو سره غړیتوب هم لري، چې د FMRAC, WHO او ECFMG نومونه د یادونې وړ دي. سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه اوس مهال د پاکستان طبي شور(PMDC) سره ثبت او همدا راز د ایران مشهد طبي پوهنتون سره د گډو همکاریو تړون لري. د(Times Higher Education World University Ranking) په لست کې سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د ټول هېواد په کچه یو له هغو درې خصوصي تحصیلي ادارو څخه ده چې د دوامداره پاینښت اهدافو پر بنسټ په یاده درجه بندۍ کې د نړۍ له زرو پوهنتونونو څخه دي.



# لرلید

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د طبي لوړو زده کړو په برخه کې د تدریس، نوښتونو او څېړنو له لارې په ملي او سیمه ییزه کچه د غوره علمي بنسټ په توگه وپېژندل شي.

# ماموریت

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د معیاري تحصیلي نصاب، مجهزو لابراتوارونو او تدریسي روغتون، با تجربه او مسلکي استادانو پر مټ د تدریس او څېړنو له لارې تولنې ته داسې کادرونه وړاندې کوي، چې د عامې روغتیا سکتور اړتیاوې پوره کولای شي.

سپين غر د لوو زده کړو مؤسسې اداره خپلو محصـلينو او هېوادوالو ته په لوړ کيفيت سره (عمومي طب، د غاښونو طب او طبي ټکنالوژۍ پوهنځيو)کې معياري خدمتونه وړاندې کوي.

**عمومي طب**
پوهنځی

**غاښونو طب**
پوهنځی


**طبي ټکنالوژي**
پوهنځی



## سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې سره اړيکې

سپين غر د لوړوزده کړو مؤسسه ننګرهار هر وخت خپلې خبرتياوې، اعلانونه او نور اړين نشـــــرات د بېلا بېلو ټولنيزو رسنيو له لارې له تاسو سره شريکوي. د دې موارد و له خبرتيا څخه په لاندينيو ادرســونو خپل ځانونه خبرولي شــئ.

- www.spingharuniversity.edu.af
- info@spingharuniversity.edu.af
- Spinghar Institute Of Higher Education
- Spinghar Institute Of Higher Education



## اسانتياوې